د حضرت محمد ﷺ د ژوند اړوند

۲۵۰ پوښتنې او ځوابونه

د اهل سنتو له نظره

مؤلف: محمد جمالزهي

ژباړن: صبر احمد مصباح

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حضرت محمد ﷺ د ژوند اړوند

۲۵۰ پوښتنې او ځوابونه

مؤلف: محمد جمالزهي

ژباړن: نصير احمد مصلح

musleeh.naseer@gmail.com / Facebook: Ah Naseer Musleeh

۰۷۴۴۲۴۷۷۲۵ / ۰۷۸۶۲۱۰۹۹۰

خپرندوی: سهار خپرندويه ټولنه - ننګرهار

کمپوز: نصير احمد مصلح

د پښتې ډيزاين: حسيب الرحمن ساحل

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ کال: ۱۳۹۶ل / ۲۰۱۷ز

چاپ وار: دويم

خپرنيز لړ: لومړی (۳)

«ددې کتاب د هر ډول چاپ او خپرولو بشپړ حقوق يې له خپرندويې ټولنې سره خوندي دي»

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالی

د رسول الله ﷺ ټول امت ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه

د ژبـاړې پـه برخـه کې دا زمـا لومړی هڅـه ده، کتاب کوچنی دی خو د لومړی ژباړې لپاره مناسب دی.

کله چې په ښـوونځي کې وم، نو تره مې (شـبیر احمد) راته دا کتاب راکړی و او راتـه یې ویلې وو چې د نبوي ســیرت د زده کړې لپـاره دا کتـاب یو اســاس او بنسټ شـمېرل کېږي. دا کتاب د ښوونځیو زده کوونکو او د هغوی لپاره چې لا یې تر اوسه نبوي سیرت نه دی لوستی ډېر ګټور اثر دی، ځکه چې ددې کتاب پـه لوســتلو سره بـه لوســتونکي د نبوي ســیرت د لویو کتـابونو لکـه (الرحیق المختوم) له لوستلو سره کومه ستونزه ونه لري .

هیله ده چې د کوم هدف لپاره چې ما دا کتاب ژباړلی دی، هغه هدف ترلاســه کړم.

هېره دې نه وي چې د کتاب د چاپ لګښـت یو تاجر په غاړه اخیسـتی. زه دوی تـه د لوی خـدای ج څخـه د اجر او ثواب غوښــتنـه کوم، خـدای د یې دا لوی خدمت قبول کړي. امین

په درنښت
نصیر احمد «مصلح»
musleeh.naseer@gmail.com
Facebook: Ah Naseer Musleeh

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ نسب د پلار له طرفه بیان کړئ؟

۱ -ځواب: محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبد المناف بن قصی بن کلاب بن مره بن کعب بن لوی بن غالب بن فهیر بن مالک بن نضر بن کنانه بن خزیمه بن مدرکه بن الیاس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

۲ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ نسب د مور له طرفه بیان کړئ؟

۲ -ځواب: محمد بن آمنه بنت وهب بن عبد مناف بن زهره بن کلاب بن مره.

۳ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په کوم کال کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې؟

۳ -ځواب: دوشنبه ۱۲ ربیع الاول یا ۹ ربیع الاول چې د ۵۷۱ ز کال د اپریل ۲۲ سره سمون خوري.

۴ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په کوم ښار کې وزېږېد؟

۴ -ځواب: د شعب بني هاشم د سوق اللیل په محله کې وزېږید-مکه مکرمه.

۵ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ په ولادت سره په نړۍ کې کومې پېښې رامنځته شوې؟

۵ -ځواب: د ایوان کسرى کنګره ماته شوه، د فارس اور غلی شو، د «ساوه» سیند وچ شو او د آسمان په لوري روښنایي اوچته شوه.

٦ -پوښتنه: په رسول الله ﷺ باندې چا «محمد» نوم کېښود؟

٦ -ځواب: د هغه نیکه «عبدالمطلب»

۷ -پوښتنه: ولې قریشو ته د «محمد ﷺ » نوم د تعجب وړ و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷ -ځواب: ځکه چې قریشو ته «محمد» یو نوی نوم و او د هغوی تر منځ بل کس په دې نامه نه و نومول شوی.

۸ -پوښتنه: رسول الله ﷺ ته به چا د «احمد» نوم اخیستلو؟

۸ -ځواب: د هغه مور «بي بي آمنې»

۹ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ د ولادت څخه وروسته عبدالمطلب څه وکړل؟

۹ -ځواب: هغه یې کعبې شریفې ته بوته، د خدای شکر یې ادا کړ او په هغه یې «محمد» نوم کېښود.

۱۰ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ نیکه «عبدالمطلب» ولې په هغه باندې «محمد» نوم کېښود؟

۱۰ -ځواب: ځکه هغه غوښتل، ترڅو د ځمکې او اسمانونو اوسېدونکي د هغه ستاینه وکړي.

۱۱ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ لومړنۍ دایه (د شیدو ورکولو مور) څوک وه؟

۱۱ -ځواب: «ثوبیه» د ابولهب کنیزه (وینځه)

۱۲ -پوښتنه: وروروسته له ثوبیه څخه څوک د رسول الله ﷺ دایه (د شیدو ورکولو مور) شوه؟

۱۲ -ځواب: «حلیمه» د ابو ذویب سعدیه لور.

۱۳ -پوښتنه: حضرت حلیمه سعیده څو کاله د رسول الله ﷺ حضانت (شیدې ورکول په غاړه درلودل؟

۱۳ -ځواب: څلور کاله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴ -پوښتنه: وروسته له هغې چې حلیمه سعیده، رسول الله ﷺ ته شیدې ورکړې نو د هغه په ژوند کې کوم برکتونه راغلل؟

۱۴ -ځواب: د هغې کمې شوې شیدې ډېرې شوې، له نورو ښځو څخه یې کاروان مخکې شو او مېرو یې ډېرې شیدې ورکولې.

۱۵ -پوښتنه: رسول الله ﷺ څو کلن و چې پلار یې وفات شو؟

۱۵ -ځواب: هغه وخت چې د مور په ګېډه کې د دوو میاشتو په عمر و، پلار یې وفات شو.

۱٦ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په څو کلنۍ کې خپله مور له لاسه ورکړه؟

۱٦ -ځواب: په ٦ کلنۍ کې.

۱۷ -پوښتنه: رسول الله ﷺ څو کلن و چې نیکه یې (عبدالمطلب) وفات شو؟

۱۷ -ځواب: په ۸ کلنۍ کې یې نیکه وفات شو.

۱۸ -پوښتنه: وروسته له عبدالمطلب څخه، چا د رسول الله ﷺ پالنه پر غاړه واخیسته؟

۱۸ -ځواب: د هغه تره (ابو طالب)

۱۹ -پوښتنه: بي بي آمنه، د رسول الله ﷺ مور څرنګه وفات شوه؟

۱۹-ځواب: هغه وخت چې نیت یې درلود څو خپل د خاوند قبر ته، مدینې ته لاړه شي. نو کله چې د مدینې څخه را ستنه شوه، په لاره کې سخته ناروغه شوه او په «ابوا» نومې سیمه کې وفات شوه.

۲۰ -پوښتنه: لومړۍ د شق الصدر (د سینې شلېدل) پېښه د رسول الله ﷺ په څو کلنۍ کې واقع شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰ -ځواب: په ۱۲ کلنۍ کې.

۲۱ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په څو کلنۍ کې د خپل تره سره د سوداګرۍ لپاره شام ته ولاړ؟

۲۱ -ځواب: په ۱۲ کلنۍ کې.

۲۲ -پوښتنه: په دغه سفر کې کومې پېښې رامنځته شوې؟

۲۲ -ځواب: په دغه سفر کې یې له نامتو راهب چې «بحیرا» نومېده لیدنه وکړه او کله چې بحیرا دغه ماشوم ولید نو د پیغمبرۍ نښې یې پکې ولیدلې او تره ته یې وویل چې د دې راتلونکي ډېر روښانه ده او دا به هماغه موعود (وعده کړ شوی) پیغمبر وي.

۲۳ -پوښتنه: کله چې قریشو پرېکړه وکړه چې کعبه شریفه ودانه کړي نو په هغه وخت کې د رسول الله ﷺ عمر څو کاله و؟

۲۳ -ځواب: ۳۵ کاله.

۲۴ -پوښتنه: د کعبې د ودانولو په وخت کې کومه پېښه رامنځته شوه؟

۲۴ -ځواب: د قریشو قبیلو د حجر الاسود د نصبولو پرسر شخړه وکړه او نږدې وه چې د یو بل وینه تویې کړي.

۲۵ -پوښتنه: رسول الله ﷺ څنګه د دغې پېښې د رامنځته کېدوڅخه مخنیوی وکړ؟

۲۵ -ځواب: رسول الله ﷺ حجر الاسود د یوه څادر په منځ کې کېښوده او ټولو ته یې امر وکړ چې د څادر غاړې ونیسي او کله چې د لګولو ځای ته نږدې شول نو رسول الله ﷺ په خپلو لاسونو حجر الاسود ولګوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۶ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په ځوانۍ کې په کوم صفت باندې مشهور و؟

۲۶ -ځواب: محمد امین.

۲۷ -پوښتنه: رسول الله ﷺ د بعثت څخه مخکې په کوم شریعت باندې خدای تعالی ته عبادت کولو؟

۲۷ -ځواب: هغه موحد و او د ابراهیم ع له شریعت څخه یې پیروي کوله.

۲۸ -پوښتنه: د بعثت څخه مخکې، رسول الله ﷺ د عبادت کولو لپاره کوم ځای ته تللو؟

۲۸ -ځواب: د حرا غار ته.

۲۹ -پوښتنه: رسول الله ﷺ څرنګه په پیغمبرۍ مبعوث شو؟

۲۹ -ځواب: د تېرو عاداتو په اساس د عبادت لپاره به د حرا غار ته تللو، هلته یوه ورځ جبرائیل (ع) راغی، وربانډی یې سلام واچاوه، وروسته له سلام څخه یې رسول الله ﷺ ته وویل (ووایه)، رسول الله ﷺ ورته وویل (زه نه شم کولی چې ووایم)، څو ځله یې دا عمل تکرار کړ او هر ځل به جبرائیل (ع) هغه په غېږ کې ټینګولو.

۳۰ -پوښتنه: رسول الله ﷺ د ځوانۍ په لومړۍ مرحله کې د چا سره تجارت کولو؟

۳۰ -ځواب: له بي بي خدیجې سره.

۳۱ -پوښتنه: د لومړني تجارتي سفر څخه څه موده وروسته رسول الله ﷺ د بي بي خدیجې سره واده وکړ؟

۳۱ -ځواب: دوې میاشتې او ۲۵ ورځې وروسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۲ -پوښتنه: له رسول الله ﷺ څخه مخکې، کوم پیغمبر تېر شوی وه چې د رسالت دنده هم ورسپارل شوې وه؟

۳۲ -ځواب: حضرت عیسی (ع.(

۳۳ -پوښتنه: رسول الله ﷺ د بعثت پر وخت څو کلن و؟

۳۳ -ځواب: ۴۰ کلن و.

۳۴ -پوښتنه: د بعثت له پیښې څخه وروسته رسول الله ﷺ څه وکړل؟

۳۴ -ځواب: رسول الله ﷺ د حرا غار څخه کور ته راغی او بي بي خدیجې-رض ته یې وفرمایل (ما پټ کړی، ما پټ کړی) او رامنځته شوې پېښه یې بي بي خدیجې-رض ته بیان کړه.

۳۵ -پوښتنه: بي بي خدیجې-رض بیا څه وکړل؟

۳۵ -ځواب: رسول الله ﷺ یې د «ورقه بن نوفل» خواته بوته او هغه ته یې کیسه بیان کړه.

۳٦ -پوښتنه: ورقه بن نوفل، رسول الله ﷺ ته څه وویل؟

۳٦ -ځواب: ورقه بن نوفل ورته وویل: پر تا باندې جبرائیل نازل شوی او دا هماغه ملایکه ده چې پر موسی-ع نازل شوې وه او ته په پیغمبرۍ باندې مبعوث شوی یې.

۳۷ -پوښتنه: کومو کسانو په لومړي ځل په رسول الله ﷺ ایمان راوړ؟

۳۷ -ځواب: ابوبکر صدیق-رض، علي-رض، زید بن حارث، بي بي خدیجه، بلال...

۳۸ -پوښتنه: څو کاله د رسول الله ﷺ دعوت پټ و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۸ -ځواب: درې کاله (په خصوصي بڼه يې خلکو ته دعوت ورکولو).

۳۹ -پوښتنه: د چا په کور کې به رسول الله ﷺ او د هغه ياران را غونډېدل؟

۳۹ -ځواب: د «ارقم» په کور کې.

۴۰ -پوښتنه: د اسلام د اخفا په دوره (پټه دوره) کې، رسول الله ﷺ او د هغه يارانو چېرته عبادت کاوه؟

۴۰ -ځواب: هغوی به د مکې په درو کې د مشرکينو څخه پټ او لرې عبادت کاوه.

۴۱ -پوښتنه: رسول الله ﷺ څه وخت خپل دعوت ښکاره پيل کړ؟

۴۱ -ځواب: وروسته له هغه وخت څخه چې د مسلمانانو تعداد ۳۰ نفرو ته ورسېد، نو رسول الله ﷺ ته امر وشو ترڅو خپل دعوت ښکاره پيل کړي (فاصدع بما تومر و اعرض عن المشرکين)

۴۲ -پوښتنه: رسول الله ﷺ څنګه خپل دعوت پيل کړ؟

۴۲ -ځواب: د قريشو ټولې قبيلې يې راغونډې کړې او د صفا په غر کې يې هغوی د اسلام دين او وحدانيت ته دعوت کړل.

۴۳ -پوښتنه: ابو لهب څه عکس العمل وښود؟

۴۳ -ځواب: چيغې يې وهلې او ويل يې چې (هلاک شې محمده)، مونږ دې همدې خبرو لپاره راغونډ کړي يوو؟

۴۴ -پوښتنه: وروسته د اسلام له رابښکاره کېدلو څخه مشرکينو څه وکړل؟

۴۴ -ځواب: هغوی رسول الله ﷺ او يارانو ته يې اذيت او ازار ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۵ -پوښتنه: د هغو کړاونو څخه چې مشرکینو به د رسول الله ﷺ یارانو ته ورکول، یوه واقعه بیان کړئ؟

۴۵ -ځواب: د «امیه بن خلف» په نامه یو کس و، چې بلال حبشي ـ د هغه غلام و. بلال به یې هر وخت گرمې هوا ته راوړلو او په سینه به یې ورته گرمه تیږه اېښوده او ورته به یې وویل چې: یا د خدای ج د عبادت څخه لاس واخله او یا به همداسې کړاو درکول کېږي.

۴٦ -پوښتنه: مشرکینو د رسول الله ﷺ تره ته څه وړاندیز وکړ؟

۴٦ -ځواب: مشرکین د رسول الله ﷺ تره ته ورغلل او ورته یې وویل: وراره دې زموږ خدایانو پسې ناجایزې وایي او موږ ته بې عقله او جاهلان وایی، که غواړي موږ ورته ښکلې نجونې ورکوو او که مال او شتمني غواړي هم یې ورته ورکوی شو.

۴۷ -پوښتنه: رسول الله ﷺ د هغوی په ځواب کې څه وویل؟

۴۷ -ځواب: رسول الله ﷺ وویل: په خدای مې دې قسم وي که لمر مې په راسته لاس او سپوږمی راته په کیڼ (چپ) لاس راکړي، بیا به هم د خپل دعوت څخه لاسبری نشم.

۴۸ -پوښتنه: رسول الله ﷺ به د کومو فرصتونو څخه په گټه اخیستنه د دین دعوت کولو؟

۴۸ -ځواب: کله چې به حجاج د حرام په میاشت کې مکې ته راتلل، بیا به یې هغوی ته د اسلام دعوت ورکولو.

۴۹ -پوښتنه: هغه وخت چې د مشرکینو اذیت او ازار خپل اوج ته ورسېد، رسول الله ﷺ څه وکړل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۹ -ځواب: رسول الله ﷺ خپل دوستانو ته وفرمایل: له مکې څخه به حبشې ته هجرت وکړو، ځکه چې هلته یو عادل پادشاه حکومت کوي.

۵۰ -پوښتنه: حبشې ته څو کسانو هجرت وکړ؟

۵۰ -ځواب: ۱۲ سړي او ۴ ښځې وې.

۵۱ -پوښتنه: قریشو کوم کسان د مهاجرینو د تعقیب لپاره حبشې ته واستول؟

۵۱ -ځواب: عبدالله د ابی ربیعه زوی او عمر د عاصل واءل زوی.

۵۲ -پوښتنه: جعفر بن ابی طالب نجاشي ته څه وویل؟

۵۲ -ځواب: مورږ یو جاهل او نادانه قوم وو، بت ته به مو سجده کوله، مرداره غوښه به مو خوړله، ناوړه کارونه به مو کول، صله رحم مو نه درلوده، نو خدای ﷻ د مورږ څخه زمورږ لپاره رسول واستولو چې امانت داری او صله رحمی لپاره یې امر وکړ.

۵۳ -پوښتنه: نجاشي له هغوی څخه څه وپوښتل؟

۵۳ -ځواب: د حضرت مریم او عیسی-ع په هکله یې پوښتنه وکړه.

۵۴ -پوښتنه: جعفر بن ابي طالب څه وفرمایل؟

۵۴ -ځواب: د سوره مریم څخه یې یوه برخه تلاوت کړه.

۵۵ -پوښتنه: په اخر کې د حبشې پادشاه څه پریکړه وکړه؟

۵۵ -ځواب: هغه وژړل د مهاجرینو د ساتنې په اړه یې وویل: په خدای قسم چې د سرو زور د غره په بدله کې به هم دوی چاته ونه سپارم.

٥٦ -پوښتنه: کله چې مشرکین د ټولو لارو څخه ناهیلې شول، نو څه یې وکړل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

٥٦ -ځواب: سره متحد شـول او تړون يې وليکلو چې هر ډول اړيکې د محمد او بني هـاشـــم سره منع دي. پېر او پلور او د هغوی سره واده کول، دا ټول منع شول.

٥٧ -پوښتنه: مشرکينو، رسول الله ﷺ او د هغه ياران چېرته تبعيد کړل؟

٥٧ -ځواب: شعب بن ابي طالب.

٥٨ -پوښتنه: دغه محاصرې (کلا بندې) څو کاله دوام وکړ؟

٥٨ -ځواب: درې کاله.

٥٩ -پوښتنه: مسلمانانو کوم تکليفونه په دغه کلونو کې وګالل؟

٥٩ -ځواب: په هغوی باندې ډېره ولړه راغلې وه، د هغوی ماشـــومان د ولړې له املـه چيغې وهلې حتی تر دې پورې چې هغوی بـه د ونې له پاڼو څخه خوراک کولو.

٦٠ -پوښـتنه: د رسـول الله ﷺ او د هغه د يارانو اقتصادي محاصره (کلا بندي) څنګه پای ته ورسېده؟

٦٠ -ځواب: رسـول الله ﷺ ابو طالب ته خبر ورکړ، چې د قريشـو تړون له منځه تللی او لـه «بـاســمک اللهم» څخه پرته بل کوم څه د تړون په متن کې نه دي پاتی. ابو طالب دغه خبر قريشـو ته واسـتولو، قريشـو چې کله له دغې کيســې څخه خبر شول نو وشرمېدل او دغه ظالمانه تړون پای ته ورسېد.

٦١ -پوښتنه: په کوم کال کې، ابوطالب او بي بي خديجه-رض وفات شول؟

٦١ -ځواب: د بعثت په لسم کال.

٦٢ -پوښتنه: دغه پېښې په رسول الله ﷺ څه اغېز وکړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦٢ -ځواب: رســـول الله ﷺ تر ټولو لوی ملاتړي له لاســـه ورکړل. ځکه بي بي خديجه-رض د رسول اللهﷺ لپاره د درد تسکين وه او رسول الله ﷺ دغه کال د عام الحزن(د خپګان کال) په نوم ونومولو.

٦٣ -پوښتنه: رسول الله ﷺ ولې طايف ته ولاړ؟

٦٣ -ځواب: ترڅو خلک د خدای ج عبادت ته دعوت کړي.

٦٤ -پوښتنه: د طايف خلکو د رسول الله ﷺ څخه څنګه استقبال وکړ؟

٦٤ -ځواب: هغوی نـه يوازې دا چې د رســـول اللـه ﷺ دعوت يې قبول نه کړ، بلکې ماشـومان يې ورپسـې واسـتول ترڅو رسول الله ﷺ په کانړو وولي او رسول الله ﷺ يې زخمي کړ، حتی کلوشې يې له وينو ډکې وې.

٦٥ -پوښتنه: آيا د طايف څخه کوم څوک مسلمان شول؟

٦٥ -ځواب: د «عداس» په نامه يو مسـيحي غلام و، چې د عتبه او شـيبه باغوان هم و مسلمان شو.

٦٦ -پوښتنه: په کوم کال کې د معراج پېښه رامنځته شوه؟

٦٦ -ځواب: د نبوت په ١١ کال.

٦٧ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ د معراج له سفر څخه په لنډه توګه يادونه وکړئ؟

٦٧ -ځواب: د رجب په ٢٧ د بعثت په يوولسـم کال. جبرائيل-ع په نوراني څېره او پر براق(ځلېدونکې کرباټه) باندې سـواره وه او په نيمه شـپه کې د رسول الله ﷺ کور ته راغله او هغه يې د خوب څخه ويښ کړ او د مســـجد الحرام په لوري لاړل او هلته يې د رســـول الله ﷺ مبارکه ســـينه يله کړه او زړه يې ورته په زمزم اوبو ومينځلو. هغوی په براق (ځليدونکی کرباټه) باندې سـواره ول او له مسـجد

(c) ketabton.com: The Digital Library

الحرام څخه مسـجد الاقصـی ته ولاړل او له هغه ځای څخه يې د آسـمانونو په طرف سفر وکړ.

٦٨ -پوښتنه: رسول الله ﷺ کوم دلايل د خپل معراج د سفر د اثبات لپاره خلکو ته وړاندې کړل؟

٦٨ -ځواب: هغوی چې بيـت المقدس يې ليدلی و د بيت المقدس د دروازو او پنجرو څخه يې ورنه پوښتنه وکړه او رسول الله ﷺ ورته په سمه توګه ځواب ورکړ او ويې فرمـايـل: پـه لاره کې مې د يوې قبيلې (تبر) کاروان وليد. چې يو خړ پړ اوښ د هغوی څخـه مخکې په حرکت کې و او درې ورځې وروســـته به مکې ته راورسـېږي. يو اوښ د قريشـو څخه ورک شـوی و او رسـول الله ﷺ ورته په دې توګه د هغه اوښ دقيق آدرس ورکړ.

٦٩ -پوښتنه: په لومړي ځل چا د رسول الله ﷺ دغه سفر تاييد کړ؟

٦٩ -ځواب: حضرت ابوبکر صديق (رض)

٧٠ -پوښـــتنه: رســـول الله ﷺ د معراج له ســـفر څخه کومه ډالۍ خپل امت ته راوړه؟

٧٠ -ځواب: پنځـه وختـه لمونځ، د ســـوره بقره آخري ايتونـه او لـه شرک پرته د ګناهونو بښل.

٧١ -پوښتنه: د «لومړۍ عقبه ټرون» کوم ټرون ته ويل کېږي؟

٧١ -ځواب: رســـول اللـه ﷺ بـه د حج په وخت کې خلکو ته دعوت ورکولو، په همدې وخت کی شـپږ تنه چې د مدينې اوسـېدونکي وو، رسـول الله ﷺ سره د عقبه ســيمې سره نږدې ملاقات وکړل او رســـول الله ﷺ سره يې ټرون وکړ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خـدای ﷻ سره بـه شرک نـه کوی او نـاوړه اعمال بـه نه ترسره کوی. چې همدا ټرون د عقبه ټرون په نامه یادېږي.

۷۲ -پوښتنه: د «عقبه دویم ټرون» کوم ټرون دی؟

۷۲ -ځواب: د بعثت په ۱۳ کال کې چې د حج مراســمو ته نږدې وخت و، ۷۵ تنه چې د مدینې مسـلمانان وو له رسول الله ﷺ سره یې په پټه توګه د عقبه په ســیمه کې لیدنه وکړه. رســول الله ﷺ د هغوی له منځه ۱۲ تنه وټاکل او ورته یې وفرمایل: چې کله خپل قومونو ته ورســېدلی نو هغوی به اســلام ته دعوت کړئ.

۷۳ -پوښـتنه: کله چې مشرکینو ولیدل چې د مسـلمانانو شـمېر ورځ تر بلې په ډېرېدو دی، نو هغوی څه وکړل؟

۷۳ -ځواب: هغوی پرېکړه وکړه ترڅو د مسلمانانو رهبر(رسول الله ﷺ) له منځه یوسي.

۷۴ -پوښتنه: په کوم ځای کې یې پرېکړه وکړه؟

۷۴ -ځواب: هغوی په (دار الندوه) کې سره مشوره وکړه.

۷۵ -پوښتنه: ابو جهل څه وړاندیز ورکړ؟

۷۵ -ځواب: هغـه وویـل: لـه هر ټبر (قبیلې) څخـه بـه یو تکړه ځوان وټـاکو او د شپې له خوا به وربانديې حمله وکړي او هغه به له منځه یوسي .

۷٦ -پوښتنه: رسول الله ﷺ څنګه له دې توطیې څخه خبر شو؟

۷٦ -ځواب: د جبرئیل(ع) د وحیې په ذریعه.

۷۷ -پوښتنه: رسول الله ﷺ د دغه توطیې سره د مقابلې په خاطر څه وکړل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷۷ -ځواب: رسول الله ﷺ پربکړه وکړه ترڅو مدینې ته هجرت وکړي.

۷۸ -پوښتنه: کله چې رسول الله ﷺ غونډتل د خپل کور څخه بهر شي نو ویې لیدل چې مشرکین د هغې د کور دروازې سره راټول شوي دي، نو څه یې وکړل؟

۷۸ -ځواب: د خاورې څخه یې یو موټی راواخیست او د مشرکینو په لوري یې وشیندلې او هغوی رسول الله ﷺ ونه لید.

۷۹ -پوښتنه: رسول الله ﷺ سره چا مهاجرت وکړ؟

۷۹ -ځواب: حضرت ابوبکر صدیق (رض)

۸۰ -پوښتنه: کله چې مشرکین د رسول الله ﷺ د وتلو څخه باخبره شول، نو څه یې وکړل؟

۸۰ -ځواب: د رسول الله ﷺ او ابوبکر صدیق (رض) په لټه کې شول او د مدینې په ټولو لارو کې یې څارونکي وګمارل او همدارنګه یې یوه ډله خلک د هغوی د پښو د نښو د پیژندلو لپاره وټاکل .

۸۱ -پوښتنه: رسول الله ﷺ او ابوبکر صدیق (رض) په کومه نېټه د «قبا» ځای ته ورسېدل؟

۸۱ -ځواب: د دوشنبې په ورځ، د ربیع الاول په ۱۲مه.

۸۲ -پوښتنه: رسول الله ﷺ او ابوبکر صدیق (رض) په کومه نېټه مدینې ته ورسېدل؟

۸۲ -ځواب: د جمعې وړې وروسته د جمعې لمونځ څخه د مدینې په لوري روان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸۳ -پوښتنه: د مدینې خلکو د رسول اللهﷺ څخه څنګه استقبال وکړ؟

۸۳ -ځواب: هغوی خوښـــي څرګنده کړه او په نغمو یې د رســـول الله ﷺ څخه استقبال وکړ.

۸۴ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په څو غزاګانو کې برخه واخیسته؟

۸۴ -ځواب: ۲۷ غزاګانو کې.

۸۵ -پوښتنه: د رسول اللهﷺ لومړی غزوه کومه یوه وه؟

۸۵ -ځواب: د بدر غزوه، چې خدای پاک د هغه څخه د «الفرقان» په نامه یادونه کړې ده.

۸٦ -پوښتنه: د مشرکینو د مشرانو څخه کوم کس په دې غزوه کې مړ شو؟

۸٦ -ځواب: ابو جهل، د دوه انصار ځوانانو په وسیله.

۸۷ -پوښتنه: د مسلمانانو د شهیدانو شمېر او د کفارو د وژل شوو شمېر په دغه غزوه کې څو تنه ول؟

۸۷ -ځواب: ۱۴ مسلمانان شهیدان او ۷۰ کفار ووژل شول.

۸۸ -پوښـتنه: رسـول الله ﷺ د بدر د غزوې د نیول شـو کسـانو په هکله څه امر وکړ؟

۸۸ -ځواب: هغه وفرمایل: د هغوی سره ښـه سـلوک کوی او هغه څه چې تاسـو یې خوری دوی ته هم ورکړئ.

۸۹ -پوښـتنه: بلاخره د رسـول اللهﷺ پربکړه د دغو نیول شـوو کسـانو په هکله څه وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸۹ -ځواب: هر څوک چې لس تنو مسلمانانو ته سواد ور زده کړي آزاد به شي او د نورو څخه د هغوی د توان مطابق فدیه واخیستل شي او آزاد دې شي.

۹۰ -پوښتنه: د احد غزوه په کوم کال کې رامنځته شوه؟

۹۰ -ځواب: د هجرت په پنځم کال، شوال میاشت.

۹۱ -پوښتنه: په دغه غزوه کې «عبدالله بن ابی منافق» څه وکړل؟

۹۱ -ځواب: په یوې پلمې سره یې د مسلمانانو له لښکر څخه ۳۰۰ تنه جدا کړل او بېرته راوګرځېدل.

۹۲ -پوښتنه: د احد د غزوه پایله سنګه شوه؟

۹۲ -ځواب: لومړی مسلمانان د ډګر بریالي وو، اما هغه ډله چې رسول اللهﷺ هغوی ته دنده ورکړې وه ترڅو د غره ساتنه وکړي، هغوی له غره څخه راښکته شوي ول او دښمن د شا له طرفه په مسلمانانو برید وکړ او ډیری مسلمانان شهیدان شول.

۹۳ -پوښتنه: پر رسول الله ﷺ په دغه غزوه کې څه تېر شول؟

۹۳ -ځواب: رسول اللهﷺ پکې سخت ټپي شو، عقبه بن ابی وقاص د رسول اللهﷺ طرف ته یوه تیره ور وار کړه چې د رسول اللهﷺ یو مبارک غاښ پرې شهید شو او مبارکه شونډه یې زخمي شوه. عبدالله بن قمیه پر رسول الله ﷺ حمله وکړه او د اوسپنې دوه حلقې د رسول الله ﷺ مبارک مخ کې لاړې.

۹۴ -پوښتنه: د احد په غزوه کې مشرکینو کومه شایعه خپره کړه؟

۹۴ -ځواب: د رسول الله ص د شهادت.

۹۵ -پوښتنه: د احد په غزوه کې څو تنه مسلمانان شهیدان شول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹۵ -ځواب: ۷۰ تنه.

۹۶ -پوښتنه: کله چې رسول الله ﷺ خپل تره «حمزه» د ربړونې په حالت کې ولید، څه یې ورته وفرمایل؟

۹۶ -ځواب: کـه سـتـا د خور «صـفیې» غم راسره نه وی ، ما په همدې حالت پرېښـودلې ترڅو مرغۍ او وحشي ـ حیواناتو خوړلی وی او په ورځ د قیامت به د هغوی له خټو څخه را پیدا شوی وې.

۹۷ -پوښتنه: په کومه غزوه کې منافقینو د «افک» کیسه جوړه کړې وه؟

۹۷ -ځواب: د بني مصطلق په غزوه کې.

۹۸ -پوښـتنه: د رسـول الله ﷺ ښـځه «عایشـه-رض» سـنګه له دې تهمت څخه پاکه ثابته شوه؟

۹۸ -ځواب: د قرآن مجید د آیتونو په نازل کېدو سره (سوره نور)

۹۹ -پوښتنه: کله چې ابو سفیان د احد په غزوه کې چیغې وهلې (ژوندی د وي هبل، ژوندی د وي هبل) رسول الله ﷺ حضرت عمر-رض ته څه امر وکړ؟

۹۹ -ځواب: د هغه په ځواب کې ووایه (الله اعلی و اجل)، خدای لوی او پیاوړی دی.

۱۰۰ -پوښـتنه: په کومه غزوه کې «جویریه» ونیول شوه او وروسته بیا رسول الله ﷺ هغه واخیسته او آزاده یې کړه او بیا یې هغه سره واده وکړ؟

۱۰۰ -ځواب: د بني مصطلق په غزوه کې.

۱۰۱ -پوښـتنه: کله چې د جویریه پلار په خپلې لور پسـی راغی، نو رسـول الله ﷺ څه وفرمایل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰۱ -ځواب: رسـول الله ﷺ جویریه ته اختیار ورکړ، که غواړې نو کولی شـې چې خپل د پلار سره لاړه شې، خو جویریه وویل چې زه غواړم رسول اللهﷺ سره واوسم.

۱۰۲ -پوښتنه: د خندق غزوه څنګه رامنځته شوه؟

۱۰۲ -ځواب: کلـه چې رسـول اللـهﷺ د ټرون څخـه سر غړوونکي یهودان لـه مدینې څخه وایستل، هغوی د مشرکینو په وسیله په توطیو لاس پورې کړ، ډلې یې جوړې کړې او د مدینې په لوري یې حرکت وکړ .

۱۰۳ -پوښـتنه: رسـول الله ﷺ ددې لپاره چې له هغوی سره مقابله وکړي په کومې حللارې یې فکر وکړ؟

۱۰۳ -ځواب: رسـول الله ﷺ ډېر ژر خپل یاران له دې حملې څخه خبر کړل او حضرت سـلیمان وړاندیز وکړ څو د مدینې څخه یو لوی خندق (کنده) وایستل شي او کفار د دغې خندق (کندې) تر شـا معطل شي. رسول الله ﷺ دا مشوره ومنله او یو لوي خندق یې وایستلو .

۱۰۴ -پوښتنه: د دې غزوې پایله څنګه شوه؟

۱۰۴ -ځواب: د نعیم بن مسـعود په مرسـته د هغوی ترمنځ بېلتون رامنځته شـو او د خدای ﷻ په مرسـته یو لوی طوفان راغی او د هغوی ټول وسـایل له منځه ولاړل او هغوی سره بېل شول.

۱۰۵ -پوښـتنه: په کومه غزوه کې مشرـکینو پرېکړه وکړه چې د کور له بام څخه به، په رسول اللهﷺ لویه ډبره راغورځوي، څو رسول الله ﷺ شهید کړي؟

۱۰۵ -ځواب: د بنو نضـیر په غزوه کې او رسول الله ﷺ د وحی په ذریعه له دې توطیې (دسیسې) څخه خبر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰٦ -پوښتنه: رسول الله ﷺ د بنو نضیر یهودانو سره څه معامله وکړه؟

۱۰٦ -ځواب: وروسته له ماتې څخه، رسول الله ﷺ هغوی ته فرصت ورکړ څو خپلې ښځې او اولادونه د ورسره واخلي او هر چېرته چې غواړي لاړ دې شي.

۱۰۷ -پوښتنه: صلح حدیبیه څنګه منځته راغله؟

۱۰۷ -ځواب: یوه شپه رسول الله ﷺ خوب ولید چې له خپلو یارانو سره مکې ته راغلی او د حج مراسم ترسره کوي، نو همدا وو چې رسول الله ﷺ پرېکړه وکړه چې همدا کال به د حج مراسمو ته ورځو. په لاره کې رسول الله ﷺ ته پیغام راغی چې قریشو پرېکړه کړې ده چې مکې ته د رسول الله ﷺ د راتګ مخنیوی وکړي، رسول الله ﷺ د حدیبیه په سیمه کې ودرېدلو او یو استازی یې قریشو ته واستولو ترڅو هغوی ته ووایي چې موږ د حج کولو نیت لرو.

۱۰۸ -پوښتنه: کوم کس د رسول الله ﷺ استازی وټاکل شو او په اخر کې څه وشول؟

۱۰۸ -ځواب: حضرت عثمان-رض د رسول الله ﷺ استازی وټاکل شو او کله چې قریشو ته ورغی نو هغوی د حضرت عثمان-رض د بېرته راتګ مخنیوي وکړ. د مسلمانانو تر منځ داسې شایعات رامنځته شول چې حضرت عثمان-رض په شهادت رسېدلی. رسول الله ﷺ د صحابه و څخه بیعت واخیستلو ترڅو د حضرت عثمان-رض د وینې بدله له مشرکینو څخه واخلي. نو بلاخره د دواړو خواو ترمنځ مصلحت وشو او د ۱۰ کالو لپاره سوله وشوه .

۱۰۹ -پوښتنه: کوم کس وروسته د خیبر له فتح څخه رسول الله ﷺ ته زهر ورکړل؟

۱۰۹ -ځواب: زینب بنت حارث، خو رسول الله ﷺ د وحی په ذریعه خبر ترلاسه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

١١٠ -پوښتنه: د بدر غزوې خپونې (علم برداران) څوک وو؟

١١٠ -ځواب: معصب بن عمیر، علی بن ای طالب او سعد بن معاذ.

١١١ -پوښتنه: د دومه الجندل غزوه څنګه پېښه شوه؟

١١١ -ځواب: «دومه الجندل» دمشق سره نږدې یو ښار و. کله چې مسلمانان له دغې لارې څخه تجارت ته تلل، نو مشرکینو به مسلمانان ځورول او د مسلمانانو مالونه به یې هم تالا او لوټ کول او کله به یې هم مسلمانان وژل. کله چې رسول الله ﷺ خبر شو چې هغوی نیت لري ترڅو په مدینې باندې حمله وکړي نو رسول الله ﷺ مخکې د هغوی د حرکت څخه د صحابه و لښکر سره په هغوی حمله وکړه او بریالیتوب د اسلامي لښکر په نصیب شو.

١١٢ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ اخري غزوه کومه وه؟

١١٢ -ځواب: د تبوک غزوه، د هجرت په نهم کال د رجب په میاشت کې پېښه شوه.

١١٣ -پوښتنه: کله چې رسول الله ﷺ مکه فتح کړه نو څه یې وکړل؟

١١٣ -ځواب: د عمومي عفو (بښنې) اعلان یې وکړ.

١١٤ -پوښتنه: رسول الله ﷺ د مکې له فتح وروسته په څه ډول دې ښار ته راننوت؟

١١٤ -ځواب: ډېر په متواضع ډول سره، سر مبارک یې د خدای په لوري ټیټ کړی و او د فتح سوره یې تلاوت کوله.

١١٥ -پوښتنه: مکه مکرمه په کومه نېټه فتح شوه؟

١١٥ -ځواب: د هجرت په اتم کال، د روژې په ٢٠ د جمعې ورځې په سهار.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱٦ -پوښـــتنه: رســـول الله ﷺ وروســـته د مکې له فتح څخه لومړی کوم کار ترسره کړ؟

۱۱٦ -ځواب: له بتانو څخه د حرم شریف پاک کول او د مشرـــکینو له شـــعایرو څخه.

۱۱۷ -پوښتنه: رسول الله ﷺ د کعبې شریفې کیلي چا ته ورکړه؟

۱۱۷ -ځواب: عثمان بن طلحه ته.

۱۱۸ -پوښـتنه: د مکې اوسـېدونکي د رسول الله ﷺ په راتګ سره څه احساس درلود؟

۱۱۸ -ځواب: د مکې اوســېدونکي وېرېـدل، ځکـه چې هغوی فکر کولو هغـه وخت چې دوی به رســول الله ﷺ ته ازار او کړاو ورکاوه نو رســول الله ﷺ به له دوی څخه غچ واخلي .

۱۱۹ -پوښتنه: رسول الله ﷺ د مکې اوسېدونکو سره څنګه رویه وکړه؟

۱۱۹ -ځواب: رســول الله ﷺ وفرمایل: ((نن ورځ هماغه خبره کوم چې یوســف خپلو وروڼو ته کړې وه؛ نن ورځ هېڅ ملامت نشـته او هېڅ ډول پوښتنه کول هم نشته،ځئ تاسو آزاد یاست))

۱۲۰ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ کسب و کار له بعثت څخه مخکې بیان کړئ؟

۱۲۰ -ځواب: په ماشـومتوب کې د پسـانو شـپون و او په ځوانۍ کې یې تجارت کولو.

۱۲۱ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ ظاهري ښکلاوې بیان کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

١٢١ -ځواب: د مخ مبارک رنګ يې سپين او سور ته نږدې و، قد يې ميانه (برابر) او وېښته يې تور او سترګې يې زيږې وې، ښه بدن يې درلود او نوراني و.

١٢٢ -پوښتنه: حضرت ابراهيم (ع) کومه دعا کړې وه؟

١٢٢ -ځواب: ((ربنا وابعث فيهم رسولاً منهم))

١٢٣ -پوښتنه: رسول الله ﷺ له کومې قبيلې (ټبر) څخه و؟

١٢٣ -ځواب: د هاشمي له قبيلې (ټبر) څخه و.

١٢٤ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ موحد نيکه (جد) څوک و؟

١٢٤ -ځواب: حضرت ابراهيم (ع)

١٢٥ -پوښتنه: رسول الله ﷺ د عربو جاهليت په وخت کې په کوم ټرون کې ګډون کړی و چې د اسلام په وخت کې يې وفرمايل: ((ما په دې ټرون کې ونډه واخيسته، که په اسلام کې هم يو داسې ټرون ته دعوت شم، قبلوم يې))

١٢٥ -ځواب: د «حلف الفضول» ټرون.

١٢٦ -پوښتنه: د «حلف الفضول» ټرون، څه ډول ټرون و؟

١٢٦ -ځواب: د دې ټرون علت دا و چې: يو سړی خپل مالونه له يمن څخه مکې ته يوړل، په مکې کې يو بل سړي دا مالونه واخيستل خو د دې توکو پيسې يې ورنه کړې. د مال خاوند د مکې له اوسېدونکو څخه مرسته وغوښتله. د مکې له اوسېدونکو څخه هم يوه ډله د «ابن جدعان» په کور کې سره را ټول شول او يو ټرون يې وټرلو ترڅو د مظلوم حق له ظالم څخه واخيستل شي.

١٢٧ -پوښتنه: له هغه ځور او کړاونو څخه چې مشرکينو به رسول الله ﷺ ته ورکول، په لنډه توګه يادونه وکړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲۷ -ځواب: یوه ورځ رسول الله ﷺ په مسجد کې د سجدې په حالت کې و، چې «عقبه بن ابی معیط» د رسول الله ﷺ په شاه باندې د اوښ مرداره پرده واچوله. بیا بي بي فاطمې هغه د رسول الله ﷺ له شاه څخه لرې کړه.

۱۲۸ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ له ظاهري خصلتونو او ځېرې څخه، یو څو ځانګړنې ذکر کړئ؟

۱۲۸ -ځواب: هغه له هر پلوه د نقص (کمی) څخه مبرا و، په خلکو کې ښایسته سړی و، مبارک رنګ یې سپین او روښانه و، تندی یې پراخه او وروځې یې نری وې، باڼه یې لوی، سترګې یې غټې او تورې وې، پوزه یې برابره وه، ږیره یې ډېره او وجود یې ښه و، قد یې متوسط خو لږ ته نږدې و.

۱۲۹ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ د ښوونې او روزنې استاد څوک و؟

۱۲۹ -ځواب: رسول الله ﷺ په مستقیمه توګه د خدای تعالی له لوري روزل شوی و. (فادبنی فأحسن تأدیبی)

۱۳۰ -پوښتنه: هغه آیت چې د رسول الله ﷺ د اخلاقو ستاینه کوي، ذکر کړئ؟

۱۳۰ -ځواب: ((وانک لعلی خلق عظیم))

۱۳۱ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ اخلاق په کور کې څنګه وو؟

۱۳۱ -ځواب: حضرت انس- رض فرمایي: ((ما داسې څوک نه دي لیدلي چې د رسول الله ﷺ په شان د خپلې کورنۍ سره په ښو اخلاقو چلند وکړي))

۱۳۲ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په کوم کال کې د اختر لومړنی لمونځ ادا کړ؟

۱۳۲ -ځواب: د شوال په لومړۍ نېټه، ۲ هجري کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۳ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ یو حدیث ذکر کړئ؟

۱۳۳ -ځواب: د هغه کس لپاره چې د خلکو ترمنځ د سولې هڅه کوي او د خیر خبره کوي، دروغجن نه ویل کېږي. (متفق علیه)

۱۳۴ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ له معجزاتو څخه یوه لویه معجزه ذکر کړئ؟

۱۳۴ -ځواب: د رسـول الله ﷺ تر ټولو لویه او عظیمه معجزه د الله ﷻ کتاب «قرآنکریم» دی، چې تر اوسـه هم شـته او وروسته له څو پېړیو بیا هم پکې هېڅ تغییر پکې نه دی راغلی.

۱۳۵ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ بله معجزه هم بیان کړئ؟

۱۳۵ -ځواب: کله چې مشرـکینو غوښـتل چې رسـول الله ﷺ ورته خپل نبوت ثابت کړي، نو د رسـول الله ﷺ څخه یې وغوښـتل چې سـپوږمۍ په منځ کې نیمه کړي او رسول الله ﷺ هم د خپلې ګوتې په اشـارې سره سپوږمۍ په منځ نیمه کړه او بېرته خپل لومړي حالت ته راغله.

۱۳٦ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ دوستانو ته کوم نوم اخیستل کېږي؟

۱۳٦ -ځواب: صحابه

۱۳۷ -پوښـتنه: رسـول الله ﷺ د خپلو صـحابو (دوستانو) په هکله څه فرمایلي دي؟

۱۳۷ -ځواب: زما صحابه، لکه د آسمان ستوري، چې هر یو پسې اقتدأ وکړې نو هدایت به وومومې.

۱۳۸ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ له نومونو څخه یو څو ذکر کړئ؟

۱۳۸ -ځواب: محمد، احمد، الماحي، الحاشر، العاقب، المقفي، ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۹ -پوښـــتنه: د رســـول الله ﷺ د ســـيرت په هکله د ځينو کتابونو نومونه ووایاست؟

۱۳۹ -ځواب: نبي رحمت، سيرة النبي، سيره ابن هشام، رحيق المختوم.

۱۴۰ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ له تورې څخه د درېو تورو نومونه ووایاست؟

۱۴۰ -ځواب: صمصامه توره، عضب توره او رسوب توره.

۱۴۱ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ ساتونکي څوک وو؟

۱۴۱ -ځواب: زبير بن عوام، حضرـت بلال، ســعد بن معاذ، ابو ايوب انصــاري، سعد بن ابي وقاص، عباد بن بشير.

۱۴۲ -پوښتنه: ولې رسول الله ﷺ ته «خاتم النبيين» وايي؟

۱۴۲ -ځواب: ځکه چې وروســته له رسول الله ﷺ څخه به بل پيغمبر تر قيامته پورې رانشي او خپله رسول الله ﷺ هم فرمايلي دي: ((زه تر ټولو اخرى پيغمبر يم، وروسته له ما څخه بل پيغمبر نشته))

۱۴۳ -پوښتنه: کوم ښار په «مدينه النبي» باندې مشهوره دی؟

۱۴۳ -ځواب: مدينه منوره.

۱۴۴ -پوښتنه: رسول الله ﷺ د خپل ښار د فضيلت په هکله څه ويلي دي؟

۱۴۴ -ځواب: رسـول الله ﷺ فرمايلي دي: ((څوک چې په مدينه منوره کې مړ شي نو د قيامت په ورځ به زه د هغې شفاعت کوم)) ابن ماجه.

۱۴۵ -پوښتنه: رسول الله ﷺ څو نېزې درلودې؟

۱۴۵ -ځواب: درې دانې: رمح، مثوي او مثني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴۶ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ یوه بله معجزه هم بیان کړئ؟

۱۴۶ -ځواب: یو صحابه وفرمایل: د خندق له جګړې وروسته، په کور کې مې لږ جواري درلودل او هغه مې اوړه کړل او یو پسه مې هم قرباني کړ. کله چې رسول الله ﷺ د خپلو ټولو یارانو سره له خندق جګړې څخه راستون شو، نو هغوی ټولو ښه ډوډۍ وخوړله او بیا هم دیګ ډک و.

۱۴۷ -پوښتنه: مسجد النبي څه فضیلت لري؟

۱۴۷ -ځواب: رسول الله ﷺ فرمایلي دي: ((زما په مسجد کې لمونځ کول په زر هاوو واړې غوره دی له نورو مساجدو څخه، مګر مسجد الحرام))

۱۴۸ -پوښتنه: په مسجد النبي کې تر ټولو غوره ځای کوم یو دی؟

۱۴۸ -ځواب: ریاض الجنه (د رسول الله ﷺ له منبر څخه تر روضې مبارک پور)

۱۴۹ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ یو حدیث ذکر کړئ؟

۱۴۹ -ځواب: رسول الله ﷺ فرمایلي دي: ((ستاسو څخه تر ټولو غوره هغه څوک دی چې خپلې کورنۍ سره ښه چلند وکړي، او زه ستاسو څخه تر ټولو غوره یم نسبت خپلې کورنۍ ته))

۱۵۰ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ هغه حدیث ذکر کړئ چې په هغه کې یې د فارسي ژبې کلمات هم کارولي وي؟

۱۵۰ -ځواب: ابو هریره فرمایي: ((ګډې مې درد کولو، رسول الله ﷺ په لاره تېرېدلو او ویې فرمایل: اشتیکیت درد، اشتیکیت درد. ای ابو هریره له درد څخه پازاب یې؟)) مسند احمد ۴۰۳/۲

۱۵۱ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ یو شعر ذکر کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵۱ -ځواب: د حنین په ورځ یې داسې وفرمایل: ((انا النبی لا کذب انا ابن عبدالمطلب))

۱۵۲ -پوښتنه: وروسته له هغې چې رسول الله ﷺ د شعب ابي طالب څخه بهر شو، د ژوند سخته ورځ یې کومه یوه وه؟

۱۵۲ -ځواب: د تره او مېرمنې مړینه یې (ابوطالب او خدیجه)

۱۵۳ -پوښتنه: عالم الحزن کوم کال ته ویل کېږي؟

۱۵۳ -ځواب: د بعثت لسم کال ته، چې په دې کال کې د رسول الله ﷺ د ژوند دوه لوی ملاتړي وفات شول؛ ابوطالب او بي بي خدیجه-رض.

۱۵۴ -پوښتنه: د ابوطالب له مړینې څخه څو ورځې وروسته بي بي خدیجه-رض وفات شوه؟

۱۵۴ -ځواب: درې ورځې وروسته یا درې میاشتې وروسته (ژباړن: د نظر اختلاف شتون لري)

۱۵۵ -پوښتنه: د احد له غزوې څخه وروسته کوم چا د رسول الله ﷺ د ترور نیت درلود؟

۱۵۵ -ځواب: یو کس په نوم دې «دعثور»

۱۵٦ -پوښتنه: په څه ډول یې د رسول الله ﷺ د ترور پلان درلود؟

۱۵٦ -ځواب: رسول الله ﷺ د یوې ونې لاندې غوښتل ویده شي، ناڅاپه یو له مشرکینو څخه په رسول الله ﷺ برید وکړ، کله چې یې د رسول الله ﷺ وېره ولیده نو توره یې له لاس څخه ولوېده. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: له تاسو سره څه معامله وکړم؟ هغه وویل: ته د خدای پیغمبر یې. رسول الله ﷺ هم هغه عفوه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵۷ -پوښتنه: رسول الله ﷺ د نړۍ کومو باچاهانو ته بلنليکونه واستول او هغوی يې اسلام ته دعوت کړل؟

۱۵۷ -ځواب: هرقل د روم باچا، مقوقين د مصر باچا، خسرو پرويز د ايران باچاه، نجاشي د حبشې باچاه او...

۱۵۸ -پوښتنه: د ايران باچا د رسول الله ﷺ د ليک په ټراو څه عکس العمل وښود؟

۱۵۸ -ځواب: د رسول الله ﷺ ليک يې څيرې کړ او ويې وويل: ولې د محمد نوم زما په ليک کې مخکې راغلی دی؟

۱۵۹ -پوښتنه: رسول الله ﷺ د هغه په حق کې څه دعا وکړه؟

۱۵۹ -ځواب: ويې فرمايل: ((خدای تعالی دې د هغه باچاهي دړې وړې کړي او هغه دې د خپل زوی په ذريعه نابود شي))

۱۶۰ -پوښتنه: د هغه ليک متن څه و، چې رسول الله ﷺ د ايران باچا ته يې استولی و؟

۱۶۰ -ځواب: بسم الله الرحمن الرحيم، له محمد رسول الله څخه د فارس لوی قصر ته، سلام په هغه چا چې د رښتينولۍ او هدايت پيرو دی او هغه څوک چې په خدای يې ايمان راوړی دی، د هغې په خدای او رسول شهادت ورکوم چې له هغه پرته بل خدای نشته، زه تاته دعوت درکوم په دې چې د خدای رسول يم، ترڅو ټولو هغه خلک چې ژوندي دي وښره او هيله ورکړم، اسلام ومنئ ترڅو په دواړو جهانونو کې روغ رمټ و اوسئ، که سر غړونه وکړی د مجوس گناه به پر تاسو وي.

۱۶۱ -پوښتنه: د حضرت محمد ﷺ څخه مخکې کوم رسول تېر شوی و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱٦۱ -ځواب: حضرت عیسی (ع). تکراري نه دی

۱٦۲ -پوښتنه: هغه آیت چې خدای تعالی په هغه کې د رسول الله ﷺ اخلاق، نورو مسلمانانو ته د یوې نمونې په ډول معرفي کړي، ذکر کړئ؟

۱٦۲ -ځواب: ((لقد کان لکم فی رسول الله اسوه حسنه لمن کان یرجوا الله والیوم الاخر))/الاحزاب:۲۱

۱٦۳ -پوښتنه: لومړی آیت چې په رسول الله ﷺ نازل شوی دی، ذکر کړئ؟

۱٦۳ -ځواب: ((اقرأ باسم ربک الذی خلق خلق الانسان من علق))

۱٦۴ -پوښتنه: کله چې رسول الله ﷺ د طایف په سفر کې خواشینی شو، څنګه دعا یې وکړه؟

۱٦۴ -ځواب: ای خدایه! ای تر ټولو مهربانه خدایه، زه له خلکو څخه تاته د خپلې کمزورۍ، د تدبیر کمښت او ذلت څخه شکایت کوم. ته مې رب یې، نو ته ما هغه چا ته چې زما پرځولو ته مبارزه کوي یا هغه دښمن ته سپارې چې زما کار ورسره ترلی دی. خو که دا ستاسو له غوسې نه وي نو بیا راته د اندېښنې وړ نه ده .

۱٦۵ -پوښتنه: الله ﷻ د رسول الله ﷺ دعا څنګه قبوله کړه؟

۱٦۵ -ځواب: وروسته له دې دعا څخه، الله ﷻ د غرونو ملایکو ته امر وکړ، که رسول الله ﷺ اجازه ورکړي نو طایف به د دوو غرنو ترمنځ، له منځه یوسي.

۱٦٦ -پوښتنه: رسول الله ﷺ څه وفرمایل؟

۱٦٦ -ځواب: خیر، زه هیله لرم چې د دوی په راتلونکي نسل کې به داسې کسان را پیدا شي چې ، واحد خدای تعالی ته به عبادت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

١٦٧ -پوښتنه: کله چې رسول الله ﷺ اراده وکړه چې مدينې ته هجرت وکړي نو مکې سره يې څه ډول مخه ښه وکړه؟

١٦٧ -ځواب: ای کعبې! څه ښه ښار يې او څومره زما خوښېږې، که زه مې خپل قوم له دې ځای څخه نه ايستل؛ هېڅکله به مې بل ځای د اوسېدو لپاره نه و غوره کړی.

١٦٨ -پوښتنه: رسول الله ﷺ به کومې ورځې د سفر لپاره غوره کولې؟

١٦٨ -ځواب: معمولاً د پنجشنبې ورځ.

١٦٩ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ د آسماني کتاب نوم څه دی؟

١٦٩ -ځواب: قرآن عظيم الشان.

١٧٠ -پوښتنه: قرآن کريم په څومره موده کې په رسول الله- ص باندې نازل شوی دی؟

١٧٠ -ځواب: ٢٣ کلونو کې.

١٧١ -پوښتنه: څه سبب شول چې خلکو به ورځ تر بلې د رسول الله ﷺ دين ته مينه پيدا کوله؟

١٧١ -ځواب: ښه اخلاق، ښه رفتار او په ټوله کې له خلکو سره ښه چلند،...

١٧٢ -پوښتنه: د مکې يهودانو ولې د رسول الله ﷺ په راتګ سره قيام وکړ؟

١٧٢ -ځواب: يهودان د هغه پيغمبر د ظهور په تمه وو چې د هغوی په آسماني کتاب کې يې يادونه شوې وه او دا چې رسول الله ﷺ د هغوی له قوم څخه نه و، نو ځکه يې مخالفت وکړ.

١٧٣ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ خبرو ته کوم لفظ کارول کېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷۳ -ځواب: حديث شريف.

۱۷۴ -پوښتنه: سنت کوم څه ته ويل کېږي؟

۱۷۴ -ځواب: د رسول الله ﷺ گفتار او کردار ته سنت ويل کېږي.

۱۷۵ -پوښتنه: زمور دنده، نسبت رسول الله ﷺ ته څه ده؟

۱۷۵ -ځواب: دا چې د رسول الله ﷺ د سنتو په ترسره کولو کې پابند او مخکښ واوسو، په خاصه توگه د لمونځ ادأ کول، ځکه چې رسول الله ﷺ به د لمونځ په ترسره کولو کې ډېر ټينگار کولو.

۱۷۶ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ له اخلاقو څخه يو ځو ذکر کړئ؟

۱۷۶ -ځواب: له غريبانو سره يې مينه درلوده، له خلکو سره مهربانه و، هر کله چې به کومې غونډې ته ورتللو نو هغه ځای چې به خالي و هملته به کېناستلو او خپلو يارانو ته به يې اجازه نه ورکوله چې ورته پاڅي، د خپل نفس لپاره به يې غچ نه اخيستلو، هېڅکله به هم د شخصي مسايلو لپاره نه غوسه کېدلو مگر هغه وخت چې د خدای ﷻ حکم به نقض شو.

۱۷۷ -پوښتنه: رسول الله ﷺ د الوداع په خطبه کې څه وفرمايل؟

۱۷۷ -ځواب: ويې فرمايل: ((ای خلکو! ستاسو وينه او مال پر يو بل حرام دي او ما ټول هغه رسم او رواج چې د جاهليت د زمانې و، له منځه يوړ))

۱۷۸ -پوښتنه: رسول الله ﷺ به له کوم خطر څخه د خپل امت لپاره وېره درلوده؟

۱۷۸ -ځواب: شتمنۍ او نړۍ سره زياته مينه. ځکه چې رسول الله ﷺ په دې هکله فرمايلي: ((وېره لرم چې مشرک نه شی او د مخکنيو اقوامو په شان د نړۍ او شتمنۍ په موخه سره سيالي ونه کړی))

(c) ketabton.com: The Digital Library

١٧٩ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ يو حديث ذکر کړئ؟

١٧٩ -ځواب: رسـول الله ﷺ فرمايلي دي: ((ای بلاله! اذان وکړه او مورِ ته د هغې په وسيله ارامتيا را په برخه کړه))/ابو داود.

١٨٠ -پوښتنه: د هغه کتابونو نومونه ذکر کړئ چې د رسول الله ﷺ احاديث او ويناوې پکې راټولې شوې وي؟

١٨٠ -ځواب: صحيح البخاري شريف، صحيح المسلم شريف، سنن ترمذی، سنن نسايی، ابو داود، ابن ماجه.

١٨١ -پوښتنه: له هغه وېرې څخه چې رسول الله ﷺ له الله ﷻ څخه درلوده، يو واقعه ذکر کړئ؟

١٨١ -ځواب: عبدالله بن سـخير فرمايلي دي: ((يوه ورځ د رسـول الله ﷺ خدمت ته ورغلم، رسول الله ﷺ په لمانځه و، کله چې يې لمونځ خلاص کړ، نو د دعا پـه وخت کې يې داسـې ژړل چې تا به ويل چې اوبه د جوش کېدلو په حالت کې دي))

١٨٢ -پوښتنه: د نړۍ په هکله د رسول الله ﷺ نظر څه و؟

١٨٢ -ځواب: رسـول الله ﷺ فرمايلي دي: ((زه له دنيا سره څه کار لرم!؟، زما مثـال په دې نړۍ کې داسـې دی لکه يو مسـافر چې د يوې ونې لاندې د لږ وخت لپاره ويده شي او ببرته راويښ شي او خپل سفر ته دوام ورکړي)) ابو داود

١٨٣ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ د ساده ژوند څخه يو څو نمونې ذکر کړئ؟

١٨٣ -ځواب: يوه ورځ حضرت عمر بن خطاب-رض، رسول الله ﷺ ولید چې په يوه پوزي باندې ويده دی، حضرت عمر-رض ته ژړا ورغله، رسول الله ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه چې ولې ژاړې؟ حضرت عمر-رض وويل: کسری او قيصر په آرامه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

راحتی کې ژوند کوي او تاسو په داسې سختی کې ژوند تېروی. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ایا ته په شک کې یې، د هغوی سهم په دې نړۍ کې ورکړل شوی او په هغه نړۍ کې به هېڅ سهم ونلري.

۱۸۴ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ له سخاوت څخه یادونه وکړئ؟

۱۸۴ -ځواب: جابر بن عبدالله فرمایلي: ((د رسول الله ﷺ څخه چې هر څه وغښتل شي، «نه» نه وایي))/ بخاري

۱۸۵ -پوښتنه: د یو څو لارو نمونه ذکر کړئ چې د رسول الله ﷺ احسانات پوره کړو؟

۱۸۵ -ځواب: د هغوی په سنتو عمل کول، د هغوی مبارک روح ته درود شریف ویل.

۱۸٦ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ کنیه څوک و؟

۱۸٦ -ځواب: ابوالقاسم.

۱۸۷ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ د څو تنو کاتبانو نومونه واخلئ؟

۱۸۷ -ځواب: خلفای راشدین، خالد بن سعید، حضرت ارقم، زبیر بن عوام، معاویه، ابی بن کعب، زید بن ثابت.

۱۸۸ -پوښتنه: هغه ښځې چې د امهات المومنین په کور کې به یې خدمت کولو، نومونه یې ذکر کړئ؟

۱۸۸ -ځواب: ریحانه بن شمعون، میمونه بنت سعد، ام ضمیر، ام عیاش، خوله، خلیسه، خضره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸۹ -پوښتنه: رسول الله ﷺ کوم کسان په خپل ژوند کې د راز ویلو لپاره ټاکلي وو؟

۱۸۹ -ځواب: لور یې فاطمه، حضرت حذیفه، انس بن مالک.

۱۹۰ -پوښتنه: حضرت انس (رض) د رسول الله ﷺ د اخلاقو په هکله څه فرمایلي دي؟

۱۹۰ -ځواب: هغه فرمایلي: هېڅکله مې له رسول الله ﷺ څخه بد-رد او غلطه خبره نده اورېدلې، په جریان د ۱۰ کالو خدمت کې یې ماته حتا د «اوف» کلمه هم نده ویلې.

۱۹۱ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ یو حدیث ذکر کړئ؟

۱۹۱ -ځواب: د کارګر مزد (حق الزحمه) تر هغه مخکې ورکړی چې د هغه خولې وچې شوې نه وي/ ابن ماجه.

۱۹۲ -پوښتنه: رسول الله ﷺ څه شی د خپلو سترګو د یخولو وسیله ګڼله؟

۱۹۲ -ځواب: لمونځ.

۱۹۳ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ ترونه کوم کسان و؟

۱۹۳ -ځواب: زبیر، عباس، ابوطالب، حمزه، حارث، ابولهب قثم، جحل، مقوم، ضرار، عبدالکعبه.

۱۹۴ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ ترورګانې څوک وې؟

۱۹۴ -ځواب: ام حکیم، عاتکه، اروی، بره، صفیه، امیمه.

۱۹۵ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ د دایې (د شیدو مېندو) نومونه ووایاست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹۵ -ځواب: عبد الله بن ارقم، اسود بن يغوث بن وهب د آمنه بنت وهب ورور.

۱۹۶ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ د رضايي ورونو او خويندو نومونه وواياست؟

۱۹۶ -ځواب: عبدالله بن حارث، انيسه بن حارث، شيما بنت حارث.

۱۹۷ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ ترور (د مور خور) نوم وواياست؟

۱۹۷ -ځواب: عقيله بنت عميم.

۱۹۸ -پوښتنه: رسول الله ﷺ څو ښځې درلودي؟

۱۹۸ -ځواب: يوولس ښځې.

۱۹۹ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ د ښځو نومونه ذکر کړئ؟

۱۹۹ -ځواب: خديجه، سوده، عايشه، حفصه، زينب، ام سلمه، زينب بنت جحش، جويريه، ام حبيبه، صفيه، ميمونه.

۲۰۰ -پوښتنه: هغه وخت چې رسول الله ﷺ له خديجې-رض سره واده کولو د دوی عمر څومره و؟

۲۰۰ -ځواب: رسول الله ﷺ ۲۵ کلن او بي بي خديجه ۴۰ کلنه وه.

۲۰۱ -پوښتنه: د بي بي خديجې-رض مهر څومره و؟

۲۰۱ -ځواب: ۲۰ اوښان.

۲۰۲ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په کومه نېټه له بي بي خديجې-رض سره واده وکړ؟

۲۰۲ -ځواب: له هجرت څخه مخکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٢٠٣ -پوښـــتنه: د هغه اولادونو نومونه يې ذکر کړئ چې بي بي خديجې-رض يې سکنی مور وه؟

٢٠٣ -ځواب: زينب، قاسم، رقيه، ام کلثوم، فاطمه، عبدالله.

٢٠٤ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ د اولادونو نومونه ذکر کړئ؟

٢٠٤ -ځواب: زامن: قاسـم، عبدالله او ابراهيم / لونې: زينب، رقيه، ام کلثوم او فاطمه.

٢٠٥ -پوښتنه: په کوم کال کې يې لور «رقيه» وفات شوه؟

٢٠٥ -ځواب: د هجرت په دويم کال کې.

٢٠٦ -پوښتنه: بي بي فاطمه په کوم کال کې وفات شوه؟

٢٠٦ -ځواب: د هجرت په ١١ کال، شـپږ مياشتې وروسته د خپل پلار له وفات څخه.

٢٠٧ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ زوی «ابراهيم» په کومه نېټه وفات شو؟

٢٠٧ -ځواب: د هجرت په ٨ کال کې وزېږېد او د هجرت په ١٠ کال کې وفات شو.

٢٠٨ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ نسل له کوم يو اولاد څخه ډېر شو؟

٢٠٨ -ځواب: فاطمه زهرا.

٢٠٩ -پوښـتنه: د رسول الله ﷺ هغه لمسيان چې ډېره مينه يې ورسره درلوده، نومونه يې ذکر کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

٢٠٩ -ځواب: حسـن، حسـين، ام کلثوم او زينب چې د علی او فاطمې اولادونه وو.

٢١٠ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په کوم کال کې له سوده سره واده وکړو؟

٢١٠ -ځواب: د هجرت په لسم کال.

٢١١ -پوښتنه: په دغه وخت کې رسول الله ﷺ او سوده څومره عمر درلود؟

٢١١ -ځواب: رسول الله ﷺ او سوده، دواړه ٥٠ کلن وو.

٢١٢ -پوښتنه: سوده، څو کاله له رسول الله ﷺ سره ګډ ژوند وکړ؟

٢١٢ -ځواب: ١۴ کاله.

٢١٣ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په کوم کال کې له بي بي عايشه(رض) سره واده وکړ؟

٢١٣ -ځواب: د هجرت په لومړي کال، د شوال مياشت کې.

٢١۴ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په کوم کال کې له حفصه سره واده وکړ؟

٢١۴ -ځواب: د هجرت په درېيم کال، د شعبان مياشت.

٢١٥ -پوښـتنه: هغه وخت چې رسـول الله ﷺ له حفصـې سره واده کولو، عمر يې څومره و؟

٢١٥ -ځواب: ٥٥ کاله.

٢١٦ -پوښتنه: رسول الله ﷺ د خپلو ښځو ترمنځ له چا سره ډېره مينه درلوده؟

٢١٦ -ځواب: له بي بي عايشې سره.

٢١٧ -پوښتنه: ام المساکين، د رسول الله ﷺ د کومې ښځې لقب دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۱۷ -ځواب: د بي بي زينب.

۲۱۸ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په کومه نېټه له بي بي زينب سره واده وکړ؟

۲۱۸ -ځواب: د هجرت په دربيم کال، د رمضان مياشت کې.

۲۱۹ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په کومه نېټه له ام سلمه سره واده وکړ؟

۲۱۹ -ځواب: د هجرت په څلورم کال.

۲۲۰ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ څو ښځې د هغه په ژوندون وفات شوې؟

۲۲۰ -ځواب: حضرت خديجه او زينب بنت جحش.

۲۲۱ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په کومه نېټه له زينب بنت جحش سره واده وکړ؟

۲۲۱ -ځواب: د هجرت په پنځم کال.

۲۲۲ -پوښتنه: د زينب مهر څو درهمه و؟

۲۲۲ -ځواب: ۴۰۰ درهمه.

۲۲۳ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په کومه نېټه له جويريه سره واده وکړ؟

۲۲۳ -ځواب: د هجرت په پنځم کال (جويريه د حارث يهودي لور وه، حارث يهودي د بنی مصطلق قوم مشر و)

۲۲۴ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په کوم کال کې له حضرت صفيې سره واده وکړ او مهر يې څومره و؟

۲۲۴ -ځواب: د هجرت په اووم کال کې وروسته له خيبر څخه يې ورسره واده وکړ او مهر يې آزادي وه ځکه چې په خيبر کې اسيره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٢٢٥ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په کوم کال کې له ام حبيبه سره واده وکړ او مهر يې چا ورکړه؟

٢٢٥ -ځواب: د هجرت په اووم کال کې او مهر نجاشي ورکړ.

٢٢٦ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په کوم کال کې له حضرت ميمونې سره واده وکړ؟

٢٢٦ -ځواب: د هجرت په اووم کال کې.

٢٢٧ -پوښتنه: الله ﷻ، د رسول الله ﷺ ښځو ته کوم لقب ورکړی دی؟

٢٢٧ -ځواب: امهات المومنين.

٢٢٨ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ کومې ښځې د هغه په ژوند کې وفات شوې؟

٢٢٨ -ځواب: حضرت خديجه او زينب بنت خزيمه.

٢٢٩ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ زومان څوک وو؟

٢٢٩ -ځواب: ابوالعاص د زينب خاوند، حضرت عثمان د ام کلثوم او رقيه خاوند، حضرت علي د فاطمې خاوند.

٢٣٠ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په کومه نېټه وفات شو؟

٢٣٠ -ځواب: د ربيع الاول په ١٢، د هجرت ١١ کال.

٢٣١ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ وروستۍ خبرې او غوښتنې څه وې؟

٢٣١ -ځواب: د خپل امت لپاره دوه شيان په ځای پرېږدم، تر هغه چې پرې عمل وکړي نو هېڅکله به هم ګمراه نه شی: قرآن عظيم الشان او سنت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۳۲ -پوښتنه: رسول الله ﷺ د خپل ژوند په وروستیو شپبو کې د کوم لښکر د لېږد ټینګار کولو؟

۲۳۲ -ځواب: د اسامه بن زید لښکر، چې فلسطین ته لېږدول کېده. (دغه لښکر د رسول الله ﷺ په ژوند کې ونه استول شو، بلکې د حضرت ابوبکر صدیق-رض په خلافت کې واستول شو)

۲۳۳ -پوښتنه: چا د اسامه بن زید لښکر د ستونزو سره-سره بیا هم واستولو؟

۲۳۳ -ځواب: حضرت ابوبکر صدیق-رض.

۲۳۴ -پوښتنه: رسول الله ﷺ د ژوند په وروستیو شپبو کې د چا د حقوقو د ورکړې، ټینګار کولو؟

۲۳۴ -ځواب: د ښځو حقوق او د غلامانو د حقوقو رعایتول.

۲۳۵ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په څه ډول دا نړۍ پرېښوده؟

۲۳۵ -ځواب: په داسې حال کې چې درهم او د دنیا کوم بل څه یې په لاس کې نه وو

۲۳٦ -پوښتنه: کله چې د رسول الله ﷺ د وفات وخت رانږدې شو، څه یې وکړل؟

۲۳٦ -ځواب: د احد غزوې شهیدانو لپدلو ته ورغی، د هغوی لپاره یې لمونځ وکړ او هغوی سره یې خدای پامانې وکړه.

۲۳۷ -پوښتنه: آیا عزرائیل(ع) د رسول الله ﷺ د روح قبض کولو لپاره، د هغې څخه اجازه وغوښتله؟

۲۳۷ -ځواب: هو، او رسول الله ﷺ د خدای تعالی لپدنه غوره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٢٣٨ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په کوم ځای کې دفن شوی؟

٢٣٨ -ځواب: د عایشه-رض په کور کې، مدینه منوره.

٢٣٩ -پوښتنه: رسول الله ﷺ څو کاله ژوند وکړ؟

٢٣٩ -ځواب: ٦٣ کاله.

٢٤٠ -پوښتنه: کومو کسانو، رسول الله ﷺ ته غسل ورکړ؟

٢٤٠ -ځواب: حضرت علی، عباس بن عبدالمطلب او اسامه بن زید.

٢٤١ -پوښتنه: رسول الله ﷺ په څو ټوټو کفن کې تکفین شو؟

٢٤١ -ځواب: درې ټوټې.

٢٤٢ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ د جنازې لمونځ څنګه ترسره شو؟

٢٤٢ -ځواب: د هغې جسد یې اښبودلی و او خلک به ډله ډله راتلل او په هغه به یې درود شریف ویلو.

٢٤٣ -پوښتنه: ابوسعید خدري، د رسول الله ﷺ د وفات په هکله څه فرمایلي دي؟

٢٤٣ -ځواب: هغه ورځ چې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته رادننه شو، نو هر څه روښانه شول او هغه ورځ چې رسول الله ﷺ وفات شو، نو هر څه تیاره شول.

٢٤٤ -پوښتنه: د رسول الله ﷺ د وفات کېدلو خبر په صحابه و څه اغېز درلود؟

٢٤٤ -ځواب: هغوی چې رسول الله ﷺ سره یې ډېره مینه درلوده، د رسول الله ﷺ په مړینه یې ځینو باور ونه کړ او ټول ور باندې ډېر خواشیني شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۴۵ -پوښتنه: حضرت ابوبکر صدیق (رض) د رسول الله ﷺ له وفات څخه وروسته کوم آیت تلاوت کړ؟

۲۴۵ -ځواب: ((و ما محمد الا رسول قد خلت من قبله الرسل افأن مات او قتل انقلبتم علی اعقابکم))

۲۴٦ -پوښتنه: انصار تعریف کړئ؟

۲۴٦ -ځواب: انصار د مدینې منورې اوسېدونکي وو، چې له رسول الله ﷺ او مهاجرینو سره یې مرسته کړې وې او رسول الله ﷺ به د انصارو مقام ته احترام درلود.

۲۴۷ -پوښتنه: خلفای راشیدن څوک دي؟

۲۴۷ -ځواب: حضرت ابوبکر الصدیق، حضرت عمر فاروق، حضرت عثمان بن عفان او حضرت علی(رض)

۲۴۸ -پوښتنه: د عشرې مبشرې نومونه ذکر کړئ؟

۲۴۸ -ځواب: حضرت ابوبکر الصدیق، حضرت عمر فاروق، حضرت عثمان، حضرت علی، طلحه ابن زبیر، زبیر ابن عوام، عبدالرحمن ابن عوف، سعد بن ابی وقاص، سعید ابن زید، او عبید بن جراح (رض)

۲۴۹ -پوښتنه: د اصحاب صفه په هکله معلومات وړاندې کړئ؟

۲۴۹ -ځواب: دوی عبارت له هغه مهاجرینو څخه وو چې له مکې مکرمې څخه یې مستقیماً هجرت کړی و او وروسته د حبشې له هجرت څخه مدینې منورې ته راغلې وو، دوی د خپل ژوند ټول وسایل پرېښودلې وو او د مدینې منورې مسجد ته به مخامخ په یوه کتار کې کېناستل او د رسول الله ﷺ خبرې به یې اورېدلی او عبادت به یې کولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٢٥٠ -پوښتنه: د بيعت الرضوان اصحابو په هکله معلومات وړاندې کړئ؟

٢٥٠ -ځواب: دوی هغه ١٣٠٠ تنه صحابه وو چې د حديبيې په سوله کې يې له رسول الله ﷺ سره د «سمره» ونې لاندې بيعت کړي و.

پای

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library